

Ketabton.com

# ورانګه

يوه ورانګه په لاس ورشي
آدم ولاړشي قدم وراندي
بيا پيري په ځاى ولاړوي
او تيري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

# ورانګه

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین "هنریار"

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

په ویاړ

د هغه ټولو زمریالو
چې د بنیادمو د شتونو ځنې
تېځندې د پښو څولاني او د -
لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا
رنګ آدمزاد خپل قجیرقامت
ته ورجګوي او ژوندنور
غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

څوک یې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نورېدی[1] شي

ځان په ېنش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکې اودرېدی شي

څه په سرآسمانوې یې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نړغونېدی شي

په خرړک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پړو[5] ټل[6] ته ولې پلی[7]
له بریالو چې ملېدی[8] شي

د بازادارهنر دې نه نړ ده
که نه یې چتی بازېدی شي

لیت او لار چې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱- نورېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرړک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
٥- پړه = ماتې خوړل، ٦- ټل = ډله جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸- ملتل = ملګېدل

که سوارهٔ لوی فرعونان دي
که کلیم(ع) شي کوږ یدی شي
د بری لاري بند نه دي
که له سر څوک تیریدی شي

○

لوی کتاب د میړنکارانو
ګډ په وینه کي د خانانو
بیاد خټو ګوګوشتان ټول
الوتونکي باتوران دي

○

د کلیم دود و نه خپل کا
رانسکوره زور جهان کا
پرېباسلی او نتلی[1]
د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چي میړه خپل دی
ټینګ په ننګ او په خپل څیل[2] دي
د زړو ماړي[3] یې ژوند دی
چي د شنو زړو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- څیل = هوډ، ۳- ماړي = ښکار.

ترمې وینې دی سکروټې
ترمې وینې هم رامبېل[1] دی
د خپل تنګ دې پاتې شوي
په کولنډ[2] دی که په بنګېل دي
ږنې ښکلې بې کونډې[3] شي
چې څانګې[4] همه ږشپېل[5] دي
دا طبیب به دې ښنګ روغ کړي
چې یې چارې د شاخېل[6] دي
چې د دروزې[7] یې تښې وي
په وینو پړاته غلبېل دي
چې جامه یې کاسیرې[8] وي
څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي
د باتور انګې[10] وروستې ده
مشرې که په چارخویل[11] دي

---

۱ـ رامبېل = یوګل، ۲ـ کولنډه = کټه چې دغوېې، څاروي څښتن یې اچوي چې د آزاد ګرځېدو نه یې منع وساتي، ۳ـ کونډې = کامې کښې ـ خلپل، ٤ـ څانګې = درې غابښې
٥ـ ږشپېل = چې دغلې رشې پرې بادوي، ٦ـ شاه خېل = چې شاه خلیل کوي یعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷ـ دروزه = دغنمو دنده ـ تیلې، ۸ـ کاسیرې = بدلمنې
۹ـ چېل = پړونې، ۱۰ـ انګې = یوه لوبه چې وایي انګې انګې مل دې څوک دی ،
۱۱ـ چارخویل = قرقره،

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متاژه د سوئیل[2] دي
شاید بیا خلیل ع زرغون کړي
"مومنان" ټول آذر خیل دي

○

کلیمه لویه کیمیا ده
لا نا پوهه پر دنیا ده
ژوند په هر اړیکې وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

○

د جهان د سمام[3] پېټې
وړي تندي باندې مېړونه
د ملخو نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاخون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اړولی څمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس - توزین

په جرګه چې لر و بر کړي
بلالي هغه بانګونه [1]
چې دا ځمکه د خدای کور کړي
دي هغه دښتن ملونه

ننګيالي دي شاه ميړونه
لکه حق يې کړي وړه وي
د ننګيال په مټ، په توره
دلته اړ دښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
د ننګيال د مزري زړه وي
تورځنګلونه خوندي وي [2]
حق ننګي يې غرين کړه [3] وي
ساه يې واچوي جوش [4] کې
له پيړو پيړو چې مړه وي
د ناحق وړه [5] ټول پړه کړي
وړه هغه کړي، چې تل پړه وي

١- بانګونه = آذانونه، ٢- تورځنګلي = باطل کاره، ٣- غرين کړه = قلا - سنګر
٤- جوشه = تنه، ٥- وړه = بريالي.

دککېدړې په اوړو نه شي
چې په غرمب دښمنو زمرو شي
په تسپو موسلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منښتو[1] نه بودېږي
چې په وينو په خولو شي
چې د باز شوغي ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګيالي يې شي ګوړلی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاريخ بهير کړولی
کله څوک بې هوډيالو شي؟
د راسمنو چارې کله
د نارامو[2] په لينګو شي
د ژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو تورياليو شي
د څيرک ميړانه کله
له درست کلي د رندو شي

۱- منښته = زيارتونوته دورو د پاره په ځان څه منل، ۲- نارام = ناغيړ - ناراست.

چې رنځور باویړې(۱) وکړي

پوچې هیلې د داروشي

آدم وګوره ای مارکسه!

کله یې سود په کورکوشي

د ځانګو د کوچنی نمرې(۲)

پوره څه رنګ په ځلموشي

چې د نمر د روناوي وي

رون په څنګ په اورګو(۳) شي

عقل څه خوني اَتي دی

راسوري(٤) په خپلو ملو شي

د ځیرک سر پوره والی

د حرص په سیپاروشي

---

چې له مال خبره واوري

پت په سر باندي پاله شي

کائنات چې په منګل کړي

دا سري سري باله شي

---

۱- باویړي = بابیړي = د نارو غی بیا تاند یدل، ۲- نمری = جامي، ۳- اورکی = اوربلکی

٤- راسوري کیدل = راکرځیدل - راخلاصیدل - راختل.

لوښتي نه تلي صبا څوک

هم یو «زه یم» به تاله شي

ښکلي هغه چې ښېیوه[1] يې

یو د «زه یم» په پساله شي

زه یم هر کله ځلمی دی

دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحروي

چې دا ځمکه یو کاله[2] شي

په یولوی سین کې غرڅلی

چړې، چړ، لښتي، ویاله شي

د کتاب حد ماتی مه شي

هره لاره چې تړي

چې د ژوند د خیره نه وي

ورانوه لارې زړې

حق به هله ښېښته وکا

لومړی غیر چې وشړې

یا سړي یاد څړي شه

حق ناحق ولې ولړې

1- ښېیوه = دول - ښایسته والي، 2- کاله = کور

زېبنا کیان چې له مېنځ ورک شي
پرکڼې به شي مړې
لوی آتیان لکه اوکړ[1] کړي
د جنګ غر تېږې ورې

○

ستور ښار کو دواره کسي
په ښار لو کړل تنها کې
نری وږت یې چرته بیا موند
برد ستورو په دنیا کې

○

له کارونو او له ښکو
سره زر و سپین کل کېږ[2] یکړو
الوول حق و ناحق دي
څنګ تراوسه ستړ کورو؟

○

د بوذر[3] د کندي خلق
د آذرو د کندي دي
که هر څو مخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

---

۱- اوکړه د ښار و د خوړلو نه وروسته پاتې کېدونکې ګیاه یا تا نستې، ۲- کېږیکره کېږي کوونکې

جوړوي د ښیښو مېـــنې[1]

څېرګان خوښیبه ګـــړوي

د وختونو په ناتـــار کې

چې يې وګوري د بـ‌ړ[2] وي

○

د وجود نېستي بــلا ده

پرې له سوخت مارکسان ژاړي

سرنېستي ده د نیش[3] "زه یم"

د وه نېستي کلیمان ژاړي

○

رغانه د توکـــو توکـو

د صورت هسې د وړېـــږي

ولې "زه یم" یوتوکـــیز[4] دی

یوتوکیزی نه نړېږي

○

حیواني وجود د ځه دی؟

د حجرو[5] الوولتیـــا ده

او حجرې د خاورین توکو

خپل ترمینځه انډولتیـــا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- د بړ = سنګسار، ۳- نیش = ناشته - نیشت، ٤- یوتوکیز = د یوتوکی نه جوړ - چې ګډوډنیزه نه وي، ٥- حجره = Cells - ژوندینکی.

دا خاورینه واړه توکي
دبریښنکو غوښي دي
او بریښنکو ته چي څیرشي
تشي ترقنده ځپي دي

دین همه واړه سره زردي
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندي غورځانګه
مذهبونه یي چارمیخ

ګرلاسي کندوان یي ډک شول
چي جَب جوب شول په خولو کي
ځارله هغو توریالیو
چي په ځېږ دي سرخیړ(۱)وکي
غوره(۲) ټوله دې په ځان بده
تش لمن که یي پسرلو کي
ساده ګوري ملغلري
خُسا ډنډوکو، خرخوړو کي

---

۱- سرخیړې = سرپټه، ۲- غوره = تومت - ګوَم والی - ملامته

دا چې ګواښ په سترو کېږي
تر هم زوره څه نېزوکي
څه ناویاته چاره وکړه
مېړنیه! په تلو تلو کې

ګور پیمار(۱) چې د ببل وو
هغه سر په مُونډو(۲) دی
کړولي(۳) چې یې د باز وې
پدلولکو په شوغو دی
چې د برید اود غدی وُ
د تسپو د موسلو دی
چې جرګې پرې ښایسته وې
هغه شرم د جرګو دی
چې ښسټن د لوی اخور وُ
اوس د پوچو کسبېدو دی
د تیرو تورو بوُر(۴) کې وُ
د بې سترګو د کندو(۵) دی

---

۱- ګور پیمار = داتمان د مخې په لوبه کې په ببل (په سر کې) د کوړې (حلقې) د ننه تګ ویشتونکی
۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تېلې خمې نه ښکته وچې کمې لوېتی، ۳- کړولي = د ښکار ځیرکولو، ښار لود پاره د باز تاویدل راتاویدل، ۴- بور = زمری، ۵ = کندې = چم، محلت.

## د قرآن ځني نامینده
## څه د خوشو عقیدو دی

بازداري يولوی هنر دی
ته په يو بیله[1] بازداري
چتی نه لري جمې
په نامه باندې میشکاري[2]
تش غږ بازو وته ناستې
څه که ځوي د لوی بلا ري
ته میر ښکاره کرې غواړي
په ښه ښه مرداري
يې په ټومنه له و يارو
خو په چاروکې د ويار[3] يي
له قرآن په غير هذا
بې صلوٰة مونځ گذاري
کله سر کږوان ته کوز کړه
چې داولې دومره خواري ؟

---

۱- بیله = د څرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره يې لاس ته اچوي، ۲- میشکار = بازوان، ۳- ويار = شرم.

چې پښتو لنډه قرآني وي

داسې به شهسرې[1] وي

دا تنزري تارونکي به

بيا بازونه وهندي وي

دا پرېوتي، دا اِنسټ[2] به

بيا ښنستري آسماني وي

چې نومرې په قام قام دي

بيا به ټول يو آدمځي[3] وي

دنن شخولي[4] او کاټې[5] به

صبا توري او توبري وي

په ونډه[6] ځمکې دنن به

نه ځمکوال، نه شيخ ملي وي

نه به پولې، نه بېلتون وي

نه نيا، نه زمايي وي

يو آدم، يو آدمتاله[7]

په کسې رنګ به يو رنګي وي

---

١- شهسرې = سترسرې، ٢- پرېوتي اِنسټ = بومتې دی، ٣- آدمځی = د آدم زامن، ٤- شخوله = درسته، ٥- کاټې = تيکې، ٦- ونډه = داسې حلال کړې ځلوې چې پکې خلق برخې (ونډې) ملستي وی، ٧- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګنې (ځمکزی يا آدم زی) راټول وی يا سره راټاله وي

آدمخُوني(۱) به یو کور وي

وران به کور کې کورکي وي

درناوی به وي په جسو

سپکاوي به بې جسې(۲) وي

نه مريي نه به ښخبنتن وي

نه به غټ، نه به نري وي

نه کاواکَ ، نه به بې واکَ وي

چې الله به ټولواکي وي

ټولنوال به ټولنوال له

رب، رحیم وي، او ولي وي

هم به یې کسب خالقي وي

هم توره(۳) به یې رازقي وي

وی پاخون لکه یو تن به

یو تاله به مختکي(٤) وي

له ختیځه ترلویدیځه

به یو ستره ورورولي وي

په حدونود کتاب کې

به دعقل خپل مخي(۵) وي

---

۱ـ آدمخُوني = ځمکه ، ۲ـ جسن = ورتیا ـ اهلیت ، ۳ـ توره = قانون - تره - ترلې لاره - لاره ، ٤ـ مختکی = مخکې تګ ، ۵ـ خپل مخي = خپلواکی - آزادي.

سين، د غاړو په درښت به
تل تر تله غرځنګي وي
يو ځاړېږي به له ټولو
ټول له يوه به لوګي وي
له قبلو دې کړو وړو
به يوه کعبه موندې[1] وي
له زړها اوږ اورکو به
د حرې يو رڼايي وي
سرې ټول به سره سيال وي
په فطرت[2] به يې ستروالي وي

○

ستا خيرې درست کائنات دی
ته لا کوز په خرخشو[3] يې
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمينځه په دښمنو[4] يې
ژوندله تنه کړو نيزدی[5]
ته ځان ځانی به ترځو يې

---

۱- موندمه = راکسل ناوی- دغوبل دمينځ غوبۍ، ۲- فطرت = نيچر دبنيادم نرپتړ نوړټول کائنات، ۳- خرخشې = جګړه، ٤- دښمنه = دښمنۍ، ٥- کړونيز په کړه هستيدونکي.

ځمکه يو ګور ځکه نه شه
ته تړن د کورکوې
يوکوړمه[1] واړه آدم دی
تڼ په قام، په قبيلو ويې
د يوې حجرې زيږنده
د حجرو په بيل کلوېې

کړه بنا يو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجرې کا ټولې
دا خواره واره قامونه
ستا مرام يو ورورولي دَه
نه ملګري ملتونه
يو بيرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا واړه بيرغونه
دا وسلې د مرګ لاهو کا
سُر د امن کا تارونه
پدې ځمکې ـ آدمځوني
بيا برسير کا جنتونه

---
١ـ کوړمه = کورنۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو كتاب دى سرتوره[۱] كا
نور ونغاړه كتابونه
بيا آزاد په آدمزاد كا
پارچاو[۲] شوى نعمتونه

زول چاپېره سور الوزي
ډېر ويزاره راپرېوځي
له دې چې قند ناتار به
هم پاخه بنځتې وځي

چې د ژوند ځله يې مړه شي
چې يې ساه دلينكو وځي
راخوړ شي پرې دلوړو
او په خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بَرى دى
دعوه كېږي د كتاب كوره
د همه قامونو لَر دى

---

۱- سرتوره = د سر قانون - اساسي قانون - بنسټيز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

○

د زردارو په تـــولـنې
دي ګټونکي په بايلـــــنې

د شته منو شـــته مني ده
د نيستمنو له نه بيـنـــنې

د مارو کوښې[1] جـــورېږي
د تش بانو[2] له څـــرمنې

د زردار مــــانۍ ولاړې
د کارګر په تــنې پــــلنې

د ډک لاس[3] سپينه جامه ده
د تش لاســـو په ريمـــنې[4]

بده ورځ د لـــولـنـــګرو[5]
دا زل نه دی ليکـــــنې

د باطل تولنه پايـــي
د مذهب په سرو ينځنې[6]

---

۱- کوښي = پيزار، ۲- تش بامنې = نيستمن، ۳- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي ۴ - ريمنه = خيرنه - خيچنه، ۵- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېتــ نه لـــري، ۶- سرو ينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.



۴

وګړي ټول که آذري غواړي
څښتن له تا نه خلیلي غواړي
د فرعوني سپاره کوزولوله
واړه وختونه کلیمي غواړي
په تشو تېکو که کتې کېږي
د ننګ ډګر لا شه ځلمي غواړي
وګړي ټول سر ړقوي او پایي
حق د مېړه غوندې ژوندي غواړي
ښکېلاکي عمر د ښارو ودې وګوري(۱)
ژوندی آدم به مخ کښې غواړي
د اباسین خونړي نیزاو چلي(۲)
د جالیوانو سر هنګي غواړي
په هسک او تل د حقیقت لټول
تل سر ببري لېوني غواړي
چې د څښتن لاره ډب کولی شي هم
ژوند داسې زین او هک سړي غواړي

---

۱- وګورئ = خبردار ، ۲- نیزاو چلي = سیلاب او چپې.

○

د هګ قامونو په خرخشوکې
واړه قامونه بې هیڅه دل شي
د میکیاولي د شهزادګانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کند کونه به پرې ناتار کړي
ګډې که نټولې زمرې نه تل شي
غښتلې متې د ځان کلا ده
کمزورې متې د ځان اجل شي
که سربېرې هوډیالې پاڅي
په رېزکو[1] به داهګ بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې څار دی
چې د حق دلارې بېل دی
په دنیا په آخر خوار دی
یو ویاړلی د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر د وېار[2] دی

---

۱- رېزکي = کوچنی- وړوکی- ناشی، ۲- ویار = شرم- پیغور.

چې تیغه[1] کې حق ته ولاړ دی
د خدای هغه څوک په کار دی
د خپل "زړه" نا روزونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی
د مېړونو مټ که کوړی
ګل وربن هم تنه رچار دی
په توله چې د ښتول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی
چې د خیرد آدمزاد دی
نو په خدای هغه مخدار[2] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې
شیخ ملي وي دا دوتړې
آدمزاد به دوه تپې وي
لرې برې نورې لرې
د ښتولنو د لرمون به
زړینې لوړې او نهرې

---

۱- تیغه = برش- کړه وړه- نقش-
۲- مخدار = روېدار- دروند.

شي څوري خلق به

بې ډليتي[1]، يوه څري[2]

دربه در خاورې په سر به

پرکني وي لولنگرې

د ټولنولو ړ شور دا –

خپلو بد وله اشرې

عقوبت په غر غنډه وشي

چې ډکيا[3] وي اورد سرې

تاله تګ د ادم ار دی

په يو ورځې برابرې

چې پرې د روي کائنات ټول

ستا هم هغه لار مخبرې[4]

PROPERTY OF ACKU 7990

○

دا چې خان خانتوره[5] بولي

دا چې هر چېرته شمله دی

نيسمنان په کمنه[6] نيسی

وايي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې ډليت = چې ډله نه لري، ۲- يوه څري = چې يوازې وي، ۳- ډکيا = چې لوګې کوي،
٤- مخبرې = په بر مخ، ٥- خانتوره = خان چې ترل پرانستل کوي چې د توري خان وي،
٦- کمنه = کم ذات - کم اصل - کم سيال

له ازل، وأيي بريال يو
نور په برخه شاګنډ(1) دي
دوی له مخ د خدایه رغ(2) دی
نور له پښنو يي زيږ نده دي!
کومه نوره يي د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نیستمنو کوم ګناه دی
چې نیمګړي، نیم کوره دي؟
او په هره یو ستونځه
پره، پرپوتي او روړه(3) دي!
که د اصل کړي پوښتنه
آدم زی ټول یو حجره دي
له یوې حجرې راغلی
قام، قبیل، تپه تپه دي
لوړ ژور دی له زبیښاکه
شته په نیشو(4) آلوده(5) دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنی را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شايي لګيدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روړه = تباه.
٤- شته او نيش = شتمن او نيستمن، ٥- الوده = ننبتي - اخته

لہ شتہ منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

دفرعون دکور دننه
په پاڅون آخر موسی (ع) شي
دباطلو بناماران ټول
تار پتاري به له امسا شي

○

عقل ليت دی، دیوکی ده
پرې قدم قدم رڼیږي
کلمه هغه شهليت (1) دی
چې ټول ژوند پرې جوتیږي

○

دآدم د شاه ځامنو
توری هرکله ژوندی دی
د وختونو په آسمان کې
په ځلا ستوري سپوږمی دی

○

د زړو پیرو کارونه نه میړونه به بیا کړي
شاه میړه کړي هغه چارې چې پیرې پس کې دنیا کړي

---

۱- شهليت = شه + ليت = لوی ليت.

چې په ځان پلن (۱) سوری نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کوټره چې دمه شي
هغه توری نېزې رنګ کړي
هوډيالی نېزه باز کوږه
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له يوې بلې ټپرې ته
د رګکې (۲) زمري غوڅ ځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځنې ځنګ کړي
ننګ په حق با ندې کوونکی
لکه ځان باندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځنې واخلي
بيا ورپاڅي جهان رنګ کړي

کليمان د ژوندون لاره ... رب يې دستر کوکې په ډک کړي
ځيرکان يې په لټون کې ... تر عمرونو سرغونډه کړي

---

۱- پلن سوری = پېپسانه پلن، ۲- رګکې = پرهار ژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کرمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړ بنجړ[1] ژوندینکی
یو موندړی[2] زه یم اوده دی
د بدلون پدې ځاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیرمخی[4] رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مرې هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتارکې ‌ ‌ ‌ ‌ هم یو "زه یم" دې خوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده ‌ ‌ ‌ ‌ نو دا "زه یم" دی موندړي دی

---

۱- انجړ بنجړ = الوول، ۲- موندړی = راکس، ناوی، ۳- ځاندره = همتړ- فریم سکلیټ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی، بدلیدونکی.

○

پیرخواره[1] یې له پښو یوسي

چې موندلې یې وي اومړې[2]

د کچبه «زه یم» آدم وي

خپلو نغوتو[3] نه بـــاد وړي

○

د آدم له «زه یم» پـــرته

نور هر څه چې دي نور پرې

له هر زبڼ[4] پرې د هجرې نه

لکه ځـان هسې راز پړي

○

هم برحق هغه ژوندون دی

چې د «زه یم» په غبرګون دی

که وجـود دی که ښـولنه

کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شرنګ نه دی | روزنګوړی[5] د بدلـون دی
د هجرو په کـچ کې اوسي | او دستر کو تش الـون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړې = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
۴- زبڼ پرې = هغه څه چې زیږ ول کوي، ۵ - روزنګوړی = روزنه کوونکی - لویونکی.

ټول فطرت یې خوري تالیږه[1]

آدم نړۍ جدا جدا وړي

د ځانی سود غم خوړونکی

له حق لاري پښې پښا، وړي

چې په نورو خپله ویش کړي

خپلې برخې نه سیوا وړي

چې مشال نورو ته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ یې دواړه سنګلي

د خوړلو چې دعا وړي

چې له خپل میوه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جامه ده

چې شي لټ. په هغو واوړي

---

۱- تالیږه = په جمع - تاله.

۲- اوښتون = انقلاب.

ځوندون په لويه لاره کې
مشالونه بلول دي
د تيرو په تورتيپونو
لښکرونه خپرول دي
کتابونه د پرد جهل
سوزول او بادول دي
د آدم نه د پر ياد کړي
د عمرونو هېرول دي
که مذهب يې هم سر وينځي
چې باطل دي نيښکول[1] دي
که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دي لړول دي
په هر پل د پرمختيا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي
چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه يې غوځول دي

---

۱- نښکول = ورکول - په نيش لګول.
۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

د سنډان تنډي به چرې کرونجې نه شي
د ډرنډو پلکونو جوړکه پرې ناتار وي

د مېړه نېستي يو څو ورځې نېستي وي
نه مېړونو شاعرۍ نېسمن او خوار وي

د رنډ و عقيدو خلقو کې هميش له
ښبنتنان د غرېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چيتی(۱) کېږي
ځان به وپوښتي چې دا څرنګ بازدار وي

چې توره(۲) د حقه ملانو(۳) خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولي ورله بويه
که رڼا يې لار ليدلو له پکار وي

د رباب خوره دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه(٤) دې ويزار وي

---

۱- چيتی = ورکوټی مرغی

۲- توره = قانون - لاره - منهج

۳- حق ملا = دحق ملګری

٤- ميلس = مجلس

ننګیالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسین کله پښه نیسي له غورځنګه
چې تر څو د ظالمانو نوغې شته دی
حقملان راپسته نه شي څنګ له جنګه
پوهګړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کلیمو تر قلنګه
چې یې مټ د غلیمانو وې کتلی
نه ویرېږي یې له تشه ډنګه ډنګه
د مړدۍ توره میدان کې لا ښه کېږي
خلاصه نه وي د کاټې[1] توره له زنګه
پخپل زړه کې زرغون شه او مسور شه
څو دې نه ده لا کوټې[2] خاوره ړنګه
چې یې جسس دتن په مورکو پر ټپ واوړي
خوده غه نه وي کرښې د جهان تنګه

---

۱- کاټې = تیکی - چړتون
۲- کوټې = د داني کڅوړه

یو بری د یو جنگ غالی دی خوبندي که
بیا په بل میدان بریښنا او تالندي که
چې دلوی ښښتن د لاسو سره ښایي
شاځلمیا ! ځان په داسې کار بندي که
په حجرو په جما تو نو کې تورتم دی
د ډیوې غوندې لنبه دې په تندي که
د میړه د ځوی آواز له خلقو بېل وي
څوک به یې ښکه په توله کې گوندي که
چې د خپل عمل لاره[1] ستړې کړل
څوک به ښک هغه وکړي راژوندي که
له غوجلې د ښارو و به ښکه وځي
چې په مینه مینه ښت ته غوږوندي که
چې یې وېره د نهورئی له چا نه وي
هغې پاڅې بې وسان په ډاک گوندي که

---

۱- لاره = لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې غوښتې ته دغاړې
له خپل تنه پلوا[1]ښه شه
د ټپانده اباسین خپل
لکه غاړې په ساته شه
دکرېز سختې په ځان کړه
پسته باز په الوا ته شه
په خپل ځان قیدونه کېږده
زرغونه شه او بیا شته شه
پولې ړا ښکه، پانکې[2] کېږده
بیا په زغاښت لکه مېږه شه
د خښتن دلارې مل شه
له خښتن ځنې لا[3]رغه شه
په ریبلوچې ورک نه شې
په لو[4]ښه لکه واښه شه
دختیځ له الا الله -
لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښه = مرورې- پلکواښه، ۲- پانکې = مېږه دک- مرام
۳- لارغه = لرغونې- وړاندې، ٤- لوښه = خصلت- خوی

په ټولنو لیوګان که دي
هر وګړی لوی اوکړ[1] دی
لولنګو ځکه په نیش دي
درناوی چې په دوتر دی
ټول په تومنه آدم زاد دي
څوک تاله، څوک تالانګی دی
چې درنه ډله[2] یې مله[3] ده
د هغو سوی په سر دی
داکندی دی د بې ننګو
څوک یې موږ څوک یې نهر دی
هر ټولنه پانګه واله
د ځان بد وله اشر دی
عقوبت به غرغنده شي
داچې نن ډکیا[4] سوشر[5] دی

---

۱- اوکړ = اولال، ۲- ډله = ګوند، ۳- مله = ملګری، ٤- ډکیا = لوګی. کوونکی، ۵- سوسر = د ډېرو سپیاکو او دچې نری نری لوګی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ړانه سنګې بدې مېتې
وا به نه خلې تورې خټې
په ګڼو نو یې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستایې د نیکه ګټې
د یوه ماته ، باقي سوی
د تور ګټ سوی دیوټ یې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو خټ یې !
دا میدان د تېرو تورو
ستا مصري تورې دې سمې
چونګ ایوه یې پاتې شوې
وې انکار د درنې سمې
حق ننګ نو نه وریته بې
دبې ننګ هر کاله بتې
لات منات چې ګوداري څوک
شي پخپله یخې ګټې

خړې، ځکه شوې، خیالي نه شوې
د «لا» شي ځني شی نه شـــوې

د جـس تـرغې نه نا میـنده
تَل نجه شوې کنی نه شـوې

تشه شخـوله ـ خـالي تـیکی
بمبل توره، توبرې نه شـــوې

له حجـرې تر سـرې راغلي
لا په «زه یم» سـرې نه شـــوې

له مـذهب چې ملسـتل دی
لـدې مرېـنې ټروندی نه شـوې

انځـاره کې چې دی پروت دی
هغه سـتر آدم زی نه شـوې

مسنگیری درته آسمـان دی
ځکه باز، باتورزی نه شـــوې

هر آدم چې دی فرعون کړ
یې بلواک، ځانوکی نه شوې

---

۱ـ انځاره انځور ـ زړی ـ نقش
۲ـ ځانوکی ـ ځانواکی

د وګړو سالار پړدی

خر سواره چې شاهسواران کړي

د کوڅو لارو کسو دري

ځلن ستوري د آسمان کړي

ګوګوشتان داومو خټو

سنډان سري اتلان کړي

لوړ او کوز سړي یو سیال کړي

اړوپیچ[1] واړه یو ځان کړي

چې سړي پې نه سړی کړل

راغوز ار هغه بتان کړي

د لالونو په ځلقولو

د مشکنو بازار وران کړي

چې جس من پکې قدر ېږي

را دبر هغه دوران کړي

دا د نوم مسلمانان ټول

پر ېښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپیچ = خپلوکي په ضد ضدی - په غوټو پړ رو.

په میوو کې د بهر ګلونه راټوکیږي
سره پوینو د لاله یکې جوړه ده

ننګیالي دي چې دلوی ښښتن په تاریې
پوره ټکری د نړۍ توله بار(۱)ه ده

ته تنزري یې، دنیاده د بازونو
د بري څکه ژوندون دی اد(۲)اره ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه ګویې
زرغونه دي له ژوند کومه کلیمه ده

هونایي(۳) په تپوروند دی، ښکار ترښې
که نه یې نن هم پرته هغه دوګزه ده

دکزی(۴) غشی دي هر وخت په سر دی
په دیدوان(۵) باندې دي اره پره، وره ده

صبا راښکه د شولان کتوته متې
که دي نن کتلی قام لره اوکره ده

---

۱- باره = مسئولیت- ذمه واري- پره ، ۲- اداره = وړانه- کټي- لوټي ،
۳- هونايي = ښکاري ، ٤- دکزی غشی = دوري پرې ګوزار ،
۵- دیدوان = شیش- خیرکوټه.

لکه خلق هسې تولنه
لکه کوږ هسې يې غار
لکه اوبن هسې يې سوری
لکه پسنه هسې پيزار
لکه باز هسې يې ماري
هسې باز لکه ميشکار
لکه ږيره لاؤن هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
زړښه هومره ځومره کار
داوچت الوتو پانکی
دشهپرو په مقدار
ددیوې رڼا ترکوره
نمر په تول جهان اوڅار
دبې ننګه په ږنګ ده ږړوي
ننګيالي نه لري سار
چې دلارې اوبنکو نه وي
په هغو جوهر بيکار

لا پې ډېر وکړي ګاندي
يو منصور خېژي په دار
د بې مټو وار څنډه برېږي
د مټ دار و وي بې وار
د زمرو نه اخستلې
سوړلنډي[1] شي کله ښکار
د آتيانوس باري وي
په ملغانو کړمار[2]
کليمان نه شو تول عمر
له خدايي چارو ونړکار

مذهبونه دي پوچ شوي غربينونه[3]
مذهبيان د خپلي ماتي بيرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چې مذهب يې رواښته[5] کړېدي هډونه
په هغه سالو چې ځان لره دوړېږي
دي عبث دا نخوړونو کړاوونه.

ا- سوړلنډي = ګيدړ، ۲- کړمار = يوغردي، ۳- غربين = يو ټوپک،
٤- راتاندون = بيا راغبرګېدل، ۵- رواښته = وراسته.

له مذهب يې چې تو دې وينې کتګل شوې
مسلمان با يلل ملکــونه ســنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولي يې په نيش دې ـــامتــونه

د مذهب دغونډلانو[1] تنستو کې
ګل[2] ډيوکی دي دعلم د يــوستــونه

له مذهبه هګ ځلمی تول ريـز کي شي
ريزکونه کله کېږي لــوی کــارونه

تکې تکی دکتاب نن هم هغـه دی
خومذهب تري نه وښکلی دی ساهونه

چې ترځو دغه مذهب او داملا دی
وي تالابه د تـالا قــامــونـوخونه

○

پوخ سنګر دی شاه مړدی ده
توربازي دی تيغ بندي ده

له باطل دځان ژغــورنې
يوه لاره ملا بنـدي ده

---

۱- غونډل = غټ غـټـې
۲- ګل ډيوکی = دګل ډيوي

لہ فطرت دي پېږده ده
لہ فطرت دي سرزوري ده

کليمه دي سرېتوب دی
سرېتوب دي سرهسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی
دا پښتو، مسلماني ده

○

په ژوندی کليمه بيا خلق ژوندي که
داله وارو وړستو شوي بيا لومړي که
داچي خاوري بي لہ مخه نه چانېږي
د سپوږمۍ په دود څوړي پرتندي که
وړونه وروڼه سره غوښې په چاړه کړي
لہ ټولېنژ وندونه وړکه کوندکوندي که
شاه ميږونه لہ زرګونو ستوروتېرشول
بېږي راښکه خپل ملګري ګرندي که
د هغې بي ننګه خلقو مرګ روا دی
چي ګزران د بل په سوي کرپندي که
د پسرلي درنه وړيځه شه په خوی کي
ځان وړښت، کله برېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوړو کاګیره تلل نه ده
د ایلتیانو(۱) کلي وړانول نه ده
د راسمانو یې سمول نه ده
که اونډي(۲) جونډي د دوپړک(۳) وي
د یکرنګانو غوځي کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب یې ځای ته برخېژول زده
چوړ کوړکان هم کړاو لي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان یې موزي(۴) کړان کړي
نو کلیمان یې تورنول زده
د آذرانو بتکورکي(۵) نړول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وړانې پیدا کوونکي، ۲- اونډي جونډي = مزغړوني چې غوټۍ نه يې نه وي، ۳- دوپړک = دوه رنګ - منافق، ۴- موزیکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړې ډک وي، ۵- بتکورکي = بتخانه.

دا بتوریه ځوشهپرو خپلولو
مښکیرک او غلیوانه باتوریږي
دیو بُت په لړپیدلو بُت غلیمو!
سومناتونه په کعبوکې نه بداېږي
له کیکره د نښتر پیوند خوړوکې
نښتر هیڅکله نښترنه پاتې کیږي
چې په پړو کودي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندیږي
چې د زهروډک لښتي پرې راسواروي
د غه سوي چنارونه نه تاندیږي
د قرآن واړه رڼاوې عقیدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهیږي
د تیروسره ملستي بناپیرک نن
د رڼا په تکي مرګ ته ببریږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي پې سلامت يه
مريئيتوب نه - ملګري د يزدان غواړي

ننګيالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنيا کې يو کار هم ناشونی نه دی
يومخيزي (١) ځيګر وره ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نورې د آدم دي
ژوندانه نوی تفسير د قرآن غواړي

په لښکو د ليښتينکو کښتې نه شي
د ژوند ستونځې مېړنی قهرمان غواړي

په يو ماره که کاوز شي، سود يې نه شي
چې ژوندي وي نوی مارې زمريان غواړي

---

١- يومخيزي = چې مخ يې يوه وي - د يوې مفکورې.

○

عقل هغه وهندی باز دې په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي
ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلیز[1]
کراولې کړي ، یرغلونه کوي
لوګینز[2]، اوریزه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي
رهبر، کړاو دی ټول دعقل چې نن
برېښ دړوندی تومن غځونه کوي
د آدم کار دی کائنات پرنه ول
برهغه قام ، چې دا کارونه کوي
چې په فطرت یې ده لتی اړولې
دهسکو سترګو معاشونه کوي
عقل بهیر کړ غوږ ځنګې دشعور
ویر ویرانې ټول مذهبونه کوي
پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
دبل موټانه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګینز = دګازو ریځ یا نیبولا ،
۳- اوریزه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په ځنګی، فطرت په ترڅي
تشي ځاندي وي، زور يې او به وي
عقل يې شل وي، هڅې يې کټه
په غتو کوري، ولې ړانده
نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې وړانه که چري نه وي
د ځوانمردانو دقط نه وځي
نه يې خواږه وي، نه يې تراخه وي
په نن په "زه يم" د وا ړو نيستمن شي
ځوراک يخساک يې خواړه او ښنه وي
په زاړه شخوند کړي، نوی تری نه شي
نوی بريد ونه خود مېړه وي
چې يې ړاغوند کړي وا ړه کړلي
د يو ګنجکې دا زر ښت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لسو کلنو و دلړون نه
اوړين ستوري راغونډېږي
ستور تېليزې سروهي لا
کائنات لا پراخېږي
که يو ستوری ورژېږي
نوي سل راوټوکېږي
د ښوندون زرغونېدو له
نوي ځمکې سادېنېږي
چرته ښوند دی په بخښنه
چرته کچ، چرته ځوانېږي
د زرها ستورو ميرو کې
د ښوندون غبرې غزېږي
يوه ستا دا ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستېږي
شنخرې ځمکې سبکته بورته
ستور تېليزو کې څرخېږي
هغه ځمکه ستا دوتر دی
چې دې لاس وروروسېږي

عقوبت به له دې ځمکې

درته کېږي په سر کېږي

د مېړونو ستورو بېړه دي

له سپوږمو ستورو تاوېږي

د یونوي کور لټون کې

د آسمان لارې چاڼېږي

عقوبت دا ځمکني به

ستورکۍ زو ته ورسېږي

د ښوندون خومره رازونه

به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي[1] پاینده هغه اوښتون شي
لا الا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مرې یې کړې په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستوربرینون شي

د اولس وینې نه ښبونکي هله ورک شي
دربریا[2] اولس چې کله په پاخون شي

داو یار لې ښلي هسې وړلا نه دي
د مړدې کارونه ډیر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وریوري
قافله یو قدم مخکې د شهوندون شي

که هرڅو مره سنگرونه له ځان تاوکړي
عقوبت د ځمکې تبې هرفارون شي

چنیشني[3] عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو تولنه مریستون[4] شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربریا = خطر- نتلی- ځپلی،
۳- چنیشني = چې چنا سکې پکې شوې وي، ٤- مریستون = هدیره.

○

د دوران په زلزلو غوږونه وار غږي

په شکلني ډیروکي څه له ویاړ بېږي

تلناوونه یې رواسته، موږ ی خوړلي

چاپ کېږدي کې به تر څو پورې اوسېږي

د پرلسبتر په چورلندو څمکې له تللي

لکه ډیلي! په خپل خېز څه غلطېږي

د سور سین چپې دمه وښکه له یادو

ای فرعونه! چې کلیم پسې پاڅېږي

د ملخ ځانګ سړ دي ملا شوله دوه غبرګي

ته لا ځې دا اتي بار ته لاندې کېږي

لا اله بتکورکوته ښکر پوکل دی

که مؤمن یې تر وروستۍ بت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي

کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر ورته د ګډو خپور لښکر شي

کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مِس څوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټي را تلي نه شي
دوی د هرې سرخیرې[2] وتلي سر شي

د هر کور انګړي تود، تیاره شي وړکه
میړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي

له تونګه[3] د عیسٰی چې نمړي وخوري
که د خټو کوګوشتان وي په وزر شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چینی هم د بدرلیچور شي

---

۱- لړه کوز

۲- سرخیرې ـ د جنګ غالي سرپره

۳- تونګ ـ شکور

دغلیم د برید او چڼغې[1] حاجت نشته
لاس تر کړي وو چې پخپله سنګروال شي

د کور، قام بدخورمنځي[2] په ځان ناتار دی
په تېغه که باتوران وي تش پېڅال[3] شي

تانک د کټي، د یرغل یې د لاس وځي
چې د چار اتلونکي توري نه اتړال[4] شي

ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه
د رونړلو چې څوک نه وي کوتي لال شي

جماتونه، مدرسې او چینې د پرشول
خوله چا هغه بانګونه د بلال رض شي

چې د خاورو له کالبوته
او ده «زه یم» برسېرن شي
په اجل پاندې جلا شي
بنیادم ولاړ شي تلن شي

---

۱- چڼغه = اپه، ۲- بدخورمنځي = بې اتفاقي - اروپېچ، ۳- پېڅال = د باتور غُل - غرباز، ٤- اتړال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار.

(c) kitabton.com: The Digital Library

دژوندون دغور ځنګونو لوی میدان دی
چاته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی
دفطرت غیږه پرانستې ده هرچا ته
بود هرچا هم په قدر دخپل توان دی
دا په تا ده جوړه شوې کائنات که توره
خپور چاپیره دجنګړو واړه سامان دی
نیمګړتیا کړمې تولي اړ په مټ دي
مټ کول د بنیادمو پوره په ځان دی
چې یې زده دسورکو وینو کښېدی دي
د هوښۍ ډانځه کمې پدې جهان دی
د باتورلمځي دنیا ده بېله بېله
یو د ځوړې، بل دلوړې وېږۍ[1] شان دی
چې سرمزې د نوښت[2] یې په لاس درکړه
د لوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- وېږي شان - وېږي انوونکی، ۲- نوښت - پیلات - ابتکار

چې د "زه یم" تول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډې چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل نخونه یمې چې یو مخ شي
"زه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړې د پښو لاندې
سلا کاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسرکي
د هوډې هڅې و باسي لاړي غرکي

تور بریښنونه یې پخپله غماز کړشي
مېړه کله پټېدې شي په لښکرکي

"ستوروڼا"[1] کرښې د ځمکې کړله ماته
ښځوي بیرغ د ستوروخېل دوټر کي

مرجوڼا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدې ځادرکي

زهري خوږه په یوماری ورپېوځي
بله ماره یې نیولې وي نظرکي

مړدکي، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د مېړونو وي سنګرکي

هر ونه خپله خپله مېوه نیسي
چاموندلي دي کروسکي په کیکرکي

---

۱- ستوروڼا = (یوه ونه د مرجوڼا) د ستورو ښکاري

زر دار هغه کوږ کږنان دي
چې شړوندي بنیادمان خوري

سړی خوري په پټه يې نه خوري
سنه برسیر يې په میدان خوري

د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا، څه دوتریان خوري

یووړی يې په شا پروټوي
بل شي لښتې بارګیران خوري

د باطلو راجواړه ده —
په برمټ يې بې کسان خوري

روایات راپاخیږدلي
په حملو حملو قرآن خوري

د آدم په بدې ورځې
کلیمان وار وخپل ځان خوري

چې په منډه د هوډ يا لوځي
لاړ به خوډ کړپې کړپې وي

چې په څرخ باندې سورې شي
د هغو توړو لاشې وي

چې له اوره ځي ونه ځي
نو هغه پڅې اوسې وي

له چپو چې انګوچه شي
پولادي هغه سينې وي

چې جنګړيزي ژوندانه وي
د بوم د کې يې شملې وي

چې د مټ مجال يې نه وي
د هغو نا ندرې ګيلې وي

د باتورو هنې ګوره
څه که يو موټې بنې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ثريا نې يې تاو نه شي
نو هغه لينده پرکې وي

چې وهي د تنکسي ستوري
په هغو کله تنکسي وي
سپوږمۍ، ستوري، ستورتېلنې
د مېړونو بر آمتي وي
د سر هنکو غور ځنکونه
د تاريخ زر زرينې وي
د اخلاص د شاهسوارانو
منزل لوی، لرې تونبې وي
چې منکل يې د زمرو وي
د هغو مارې سکې وي
په راسمنو باندې غرونه
د مالوچو پاغوندې وي
پرناوړې سنکر بايلي
وينبې سترګې پلېتې وي
دو زنګ تنبتي کون پرېانه
چې د بدر ترپسې وي
د مېړونو لوی لاسونه
خپله توري او بلې وي
د کېدرو په نصيب کې
د زمرو پاتې درنګې وي

Reserved -1-

چې یې پښې وي غزولې
د هغو ډاګې سپېرې وي
چې له ژوندون ماتې وخوري
زور یې ټول په موسلې وي
د مرشداکو مسئلو کې
هم د مرو مرینې کیسې وي
کوښې هم ځان سره کوږ کړي
چې یې خپلې پښې کږې وي
دیوړوغ دسیالي نه وي
د ړندو که پړکنې وي

○

قام ډلې ډلې تورو تور برېښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی

هر ډلیت خپلې ډلې ته سبنه وایي
دغه دستور د ډله بازۍ دی

پلویان راوړي ناحق به حق کړي
"قامي[2] جرګه" کې سوال د لیړۍ دی

چې "جرګه غړي[3]" ټول شته منان وي
واړه هیواد دی وینډي ونډي دي

کاواکه دروغي واکمنې ډلې
څوک یې د منځې د کاواکۍ دی

د "سلاغونډه[4]" سپیڅلې لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = دیموکراسي.
۲- قامي جرګه = پارلیمان.
۳- جرګه غړي = ممبران.
٤- سلاغونډه = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر یې ننګ دی
واړه شروند یې د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چیلي ناوېښکي په سمڅو، په لغمونو
ببل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "ډنګ قامتو" سراوېښکلي
سالارې یې په نرۍ پورې قلنګ دی
هم د علم په دنیا یې بیرغ جګ دی
هم چاپېره یې د ښه سرېتوب ډنګ دی
هم یې کټه، هم یې مخ ملازې ورکړه
خپل پردي یې په نامخنه باندې زنګ دی
د زیارت خوړو ته ناسته بې کتابه!
ستا کور لارې ولایت د پلي لنګ دی

منکران په دلیلونو منکران دي
او ملا د بې دلیل مذهب امام دی
روښان خیاله نه کافر دی، نه منونکی
د تسپو سره ګرزوان یې له ناکام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي ډکه
چې یې خم پخپله وچ او نسکور جام دی
پوهګړي ترې ترهېږي، ځي په ډډه
چې ملا ور شبکاره کړي کوم اسلام دی
لیشتکي له لیشتکي مفکورې زېږي
ځان وګوره په جهان دې څومره سام دی
مذهبونه په کړې د نیمسانو
د شته منو خوندي[1] ګټو سمام[2] دی

خدای څرندي مال یې میرات دی
څه بې کچه نا روا دي
دي د ټولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
دا د (لاد) دوران سر دی
دوټریان چې په کړ با دي
د هغو لپچې تاوېږي
له پېروونه چې په غلا دي
له زما، له زمایې نه
پساتونه په دنیا دي

۱- خوندی = په امن - Safe ، ۲- سمام = بندبنا

چې لسین ترې لاس نیوکړي
شاه مېړونه د اِلاّ دي

امانت د اولیا دي
چې له تا ځني سوا دي

چې د حق او د باطل ډغره راشي
د بې لارې پلار نیکه په لاره مه شي

چې توره[1] یې د بتانو لړول وي
خدای دې وګوماري ته هغه مېړه شي

چې یې غل غدو له ویرې بلوسته کړي
په مورچلو د قام ویښ هغه لیمه شي

چې مرشړوا کې ولسونه پرې رغېږي
که یې سل ځله توکي، هغه تارخه شي

څه زرغې زرغې کوې چا قهرمان ته
که ملا وتړې، هغه توریال به ته شي

غرونه غرونه واورې هله به شي ویلي
چې د نمر پشان پرې سوړ په ایشېدو شي

چې یوه پلار ګڼي ومانځي اولس ټول
ته به هم د اولسیاسو[2] په وله شي

۱- توره = دستور- قانون ، ۲- په وله = په ډوډۍ- پښنه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې را شپېل دې په راشه دآسمان ښخ کړ
بيا به هله دسرې په نوم باله شې

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
دقام جوش بيا پلوشېنې شولې
د سربښندنې کرامت وکوره
دازغو غېږې گلورېنې شولې
د پلار څېرې دې کائنات دې واره
کاش چې دې تورې بيا پلرېنې شولې
باتورزي خپله به راوزيږي وي
که د پروکي دې مابښېنې[1] شولې
غرا وراغه يې شيخ ملي ونيول
چې د زمري ستوگې تندرېنې شولې
د تورانې لېوني کړيکې سره
څانگې غرانگې سندرېنې شولې
چې بيا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرېنې شولې

---

۱- مابڼ = يوغر

کلیمې لره شړوندي زړونه پکار دي
او وړه لوټې په پنډه کله پیدا کیږي
په خوږلن کې له بحرکو توغړیدونکو
تر آسمان شړېکوونکي او ر تاند پېزي
چې ایانو د تنې وچ ځیلي شړوستې شي
په کږوږو شپبونو راتو کیږي
د مذهب په کڼ خوړلو لختو لړو
د سړه سوري د قاموونو جوړېږي
هغه ځلمي بويه بيرغ د محمد له
دا په خوار ولشتکو نه پورته کیږي

مړه یو کې مذهبونه
لاړې نه شي رښولی
د بوزرګ انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

د شړوندون او بزدې کیسو له   کائنات به چا نول وي
له موجود ځني پیشنا به   تر لوګیزی پورې تلل وي

○

چې په هغو شرعونو ننګ کړي
چې پرې ي کسرپا وي وختونو
ګویا ځان لره توزیښ[1] کړي
د کوړونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې
نه نیم سول شته، نه سوړ شته
د خلیل مټ دي تود اوسه
د آذر چې بُت کړه شته

○

د رند و عقیدو سبار کې
انقلاب رابرسیرن شي
د زړو خدایانو مخ چې
ولسات ته کرغیړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبی
بتکورونه رانسکور شي
چې د زړونو په ورشو کې
حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(۱) توزیز = بندوبس

○

خلیلان چې له تولـنې
د خدایانو وړکول کـړې
نولو مړي د دې خدایانو
خدایي وړپوچ کول کـړې

○

کلیمان د فـرعونانو
پاچایي هله غـوزار کـړې
چې بې لاړې ولسات تول
د دلیل په زور په لار کړې

○

د کلیم د درنې پـرګـ(۱)ـې
خلقې وې واړه زبـرګې
هم یې کتـه، هم بخښـنه
هم یې مټ وي هم یې سترګې

○

چې د وخت اړې ګـړې کې
ځای تینګ لکه د غـرو
د خپل پوخ «زه یم» په مرسته
د همه پرګنو سـرو

○

۱- پرګې = پرګنې .

۱۰

اوسې تش د عقل اند پښنو سره
ځې په تياره لار او ور اوړ کو سره
عقل که سقراط دی، بريالی نه شو
ګريوی په لاس د پرشو کشالو سره
ستونځو د ژوندون له برمه پرې يستل
دل يې چې سپوږمی ستوري کړل پښو سره
لا تر اوسه لرې له خپل ډکه يې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره
کله په يوې کله په بله ځې
د روحي دې نيلي د برېو کو سره
وينې اوښکې و چې شي لمبې کښېنې
عقل چې بلد شي الله هو سره
راشه د کعبې در شله و نيسه
مل شه ای ځيرکه کليم زو سره

آدم زی له مرییتوب څني آزاد کا
د "ما کان لبشر"[1] سبق ور یاد کا

چې د بل د خولو وږم تي راخېژي
د هغو ماڼو کړکچو خور بنیاد کا

د آذر د بت خانې لړولو ورستو
شړی ورو او ورځه کور د خدای آباد کا

چې صبا په غرقېدو شي کلیم والې
د دوران فرعونانو ته خدای رایاد کا

په لوخړو کلی پټ، په وینو ډوب دی
د کوچني فکر سالار دې څه فساد کا

د مړي په ځای خښتن چې زورزنیسي
د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

له کړیوانه د فطرت یې چې لاس وښکه
هغه قام به زر په غاړه کړند کچلول کا

لا اِلا چې یې توره شي د تهولني
هغې ډب به یرغلونه د منګول کا

(۱) (ما کانَ لبشرٍ ان یؤتیه الله الکتاب ... ثم یقولوا للناس کونوا عباداً لی ...)

حق باطل تورې تور برېښ دي تل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا

د هر قامونو نه دې غونډې او بوړې
په سین غاړه له بارګیر خوشي پرزول کا

رسېدلی په خپل "زه یم" شاه مېړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کندول کا

دا کاڼي یوازې تېرو خلقو نه کړې
خلق اوس هم په ژوندو لونه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سره یخواره دي
په پړ دو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

○

چې ځانګړي سود پسې یې شي وګړي
په ټولنه کې سوراوور په غرغنده وشي

د شته منو شته مني چې خُمار وکړي
انقلاب د نیستمنا په راتلو شي

چې بې وس دې دوسدارود سیالۍ شي
د زرداره تېپي دا کله پیرزه وشي

دوتریان د لولنګو غمونه نه خوري
له لېوه کله زره سوی د شپنګو شي

زر داري د پردو وینو لوی اغیږدی
اغیږلې عقوبت په چاودېدو شـــي
الا مې داو بنستون د قلِ الْعَفْـو ؟
دوترونه چې ورو ورو په کمېدو شي
هغه کار چې کلیمانو ته اتـال دی
هغه کله له مارکس اوله روسو شي

له د ستور د باتورانو چې بې پک دي
خود په جاله کې پیدا بې هسبکیرک دي
چې بې ښروند د خدائې لارې په لاروي
هغې سیال دی، هم برخین هم په خپل کور دي
د میړونو لار د هاکې آسماني لاره
مزغروته لارې تل د دوپرک دي
له ساده ایمانه ځار بې فلسفي شه
څښتنان چې دلروکې د بتک دي
شپنکی کوره غرضونو شرمخان کړل
په برمته ارم په غوښبود کندک دي
د ننګیال واړه کارونه هـلي ځـلي
د نیستمنو، بې اسره وُ په کومک دي

تور[1] څنګلي پرې برې راولي نه شي
چې د بدر، د حنین توري ترملا دي

الا چې غونډې دانه راوړي یو ځای له
شاه ځلمي له شاه ځلموکه شاپه شا دي

ننګیالي د سرزړو کې د تور سرو
ننګیالي جګې شملې د اولیا دي

فرعونان یې چې په مکر کوټ ښکار کړي
زرکول یې بیا کارونه د موسی ع دي

یو کتاب و چې امت یې پرې ټول راټول وو
یو کتاب دی، او لړوه[2] دوه اویا دي

هر دلیت[3] دخپلې دلې د وزړه[4] وایي
او آمي خلق حریان، چې تر رښتیا دي!

---

۱- تورڅنګلي = چې توره څنګل لري. د باطل ځواکونه.

۲- لړوه = ګوندونه - دلې.

۳- دلیت = د دلې غړی.

٤- دوزړه = ثنا - صفت.

○

د زرا ړې[1] تنګسې کړ بنې کې
ژوندانه کله ځائېږي
ژوند غزېږي، اوچتیږي
زراړه خوري او سمسوریږي
د زاړې وجود د خیر دی
چې پرې «زه یم» شیرازېږي
د وجود دنیا تاغیر خوري
«زه یم» کله تاغیرېږي
د خښتن په لیکه «زه یم»
خپل قامت وته رسیږي
د زاړي ځاندره شي رڼګه
«زه یم» هر کله پائیږي

○

د لږه د خدای ماتي خوړلی نه شي
څوک يې ترلي پرانستلی نه شي
تورې به ستا د موزیکی توره وي
د میږه توره پخیدلی نه شي

---

۱. زراړه = (لکه واوړ زراړه) ماده - چې زيږېدل کوي - Matter

دګیدړ برخې دي هرچا وخوړي
دزمري برخې څوک خوړلی نه شي

که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي

چې یې بیرغ دِ الاهو ړپېږي
څوک په سنګرېي ورختلی نه شي

زمانه هرڅومره که مخکې ولاړه
له کلیما نو مخکې تللی نه شي

دغیرقامونو دکټ پښې تر ناسته
تا عزت داره څوک ګڼلی نه شي

د خیګونو[1] خاوندان چې اړ وېچ شي
رسوي به څوک جاله وایه څکو در ته

ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بیا څوک اړوي بلرونه پردې ور ته

په زنارکي تسپې وپیلې خلقو
یو مخیزې مسلمان چې لاړ شي چرته!

د خلیل نوم د ثواب دپاره اخلي
ژوندانه دي ټول ناري وهي آذر ته

۱- خیګ ء شناز

خدای دې توان د مېړونیات د شاځلمو کړي
چې په نره ورکېوتي دي لوی غمر ته
د کلیم د پېړۍ خلق هم هغه دي
نیمګړتیاوې چې د خدای رسوي سر ته

بیا پېښوار د محمد (ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دی تیږې بیا ورولې
دا جنډې د کلیمې چې چرته رپي
دا د بدر له میدان راغلي ستهولې
د کعبې په توره ګټه لوظ کوونکو
د سړونو په بازو غاړې خلاصولې
صدقه د وینو سرو د پتیالو ده
چې نن قام د خپلواکۍ خبرې کولې
د سمسور فصل رشه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیمانې کله چا کولې
سمندر یې خیرې غوڅ کا خپلې غېږ کې
که او به دا لګه و ورځې ختهولې[1]
ساقي خُم ته د شا کاسه سره ناست دی
څوکه سترګې لېونو بیا وغړولې

۱ـ ختهولې: چې د ختهو لهو ړکې وي.

پخه مه شه د توریال د مړدی توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه
د ړوندی مفکورې[1] خپله دومره څواک[2] وي
بې لښکرو کړي را لاندې هیوادونه
انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
چې راځي بوړبوړکي انقلابونه
یو بیرغ د محمد[ص] به تل رپاند وي
نور دښیلمی[3] دي باد وړي بیرغونه
هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تلن دی
رازیږي نور اومه او پړه رنګونه
سرچینه یې چې شي وچه، ړنداوی شي
په غرمبا روان اِکاو[4] اکاو سیندونه
د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختې[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- څواک = زور- قدرت،
۳- دښیلمی = بټول- سراسر، ٤- اِکاو = بودم- دړک ،
٥- شناختې = خازې

○

د هغو قامونو بڼه[1] د بڼې شي
چې لیندۍ یې د ځلمو شهوتې پرې کې شي
چې یې کډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلواکۍ کوزې ځنلې شي
راسمنې د مشرانو چې یې نه وي
ښې درنې پګړې پلرینې یې ښنې ښنې[2] شي
لا شه تورې بنیادم تشې کاټې شي
چې په برخې یې ژونده عقیدې شي
د شادو غوندې پیښې کړې د قامونو
چې یې جس د نو ښتون بسمې بسمې شي
څه په څه دی له خاورینې ډیوې ګرځه
له ډیوې نه عقوبت بلې ډیوې شي

○

کړچ شومڼلې[3] سره بیل بیل کړي
زمانه د شړوند شاریل کړي
د میړه لار یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- ښنې ښنې = ریښې ریښې، ۳- شومڼلې = تروې - شلومبې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په لار د شهزاده[1] شي
هغه دوه ژبې ساتل کړي
په فرعون ځاندي نسکوره
چې دستور د کلیم خپل کړي
دره یونیم په نیزه وري
که آسونه د پیر تېښتل کړي
د ښې ورځې په تکل کې
خلق توري هم ځال کړي
د ځالا کوتر و ته ګوره
چې په نمر پسې غپل کړي

دبا توراڼو نوغي[2] دې خور کړه
درته دي پاتې تش پیخالونه
دلبه[3] مرداره څنډ وې لاس کې
تش تېوسان پرې کوي سود[4] ونه
د چتو ښکارې دوګزې نه کړي
هوښیارې ګرځې نیسي بازونه

---

۱- شهزاد د = میکیاولي دکتاب نوم، ۲- نوغي = اصل - نوغي خوړول - بېخ ورکول، ۳- دلبه = غوښنه - طمع، ٤- سود = مینه

چې پرې اړې وې د باتورانو
نه ښکاري هغه دنګ ښتورونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وایي کوم کتابونه؟
غرابین زنګ شه، او توري پټې
یا تې مُلا دي، یا یې بانګونه

○

وګړي ګوره په غورزو پرزو
نمرې له یو بل را شکول کړي
کارونه واړه د لاس سبري دي
څوک شي سکوندلی او څوک سکوندلي کړي
دښته منانو د ینګان را پټه دي
دښمنانو وندي وېشل کړي
یو پنجوره هم خپل نوغی نه خوري
آدم لګیا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو[1] پسې را نده شول
څوک په اوبږ[2] مکوکې شونډه وهل[3] کړي

---

۱- خمڅي = د نرو جوارو دوډۍ. خوار خواره، ۲- اوبږمک = غوره زېړه خوراکه. شاهي خواړه، ۳- شونډه وهل = لکه څاروي چې په کیاه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري یې نه.

د قبر ځای د لولنګر نښته

ځمکه وال ځمکې ړانغاړل کړي

دوړې تو غوښو د دوزې خېژی
خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

○

د ځمکې مخ چې په بلهوا ړئ

دا انقلاب دی، هم دا پکار دی

چې سپوراو پلی سره یو سیال کړي

هغه ربنتینی کاروان سالار دی

وارته دې شله زړغې زړهې کړي

نن را اوچت شه هم نن دې وار دی

میړه د عقل، غوښې د ښکار خوري

د عقله پلی پخپله ښکار دی

هر سړی ځانته ترخزه توبزي

یو څو ماړه دی، نور ولس خوار دی

کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی

یو سرا وبل سر عالم بې لار دی

د ننه په تن کې زړې زرغون کا

بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځروندا نه کله بېلتون کله کړونه دی
کله مل شه د ټولنې کله بېل

که دې زور د نړهانې بدلولو نه وي
د دوران کوځړې خوره او شه بدل

درناوې او سپکاوی په جسوار ړی
ستا په لاس ده که کنې او سې که نسل

نشته نوره کومې لار د کټې نه ده
توریالیه! چې ځونه شولې حق مسل

ساد، هغه چې په خولو یې د تندې خورې
تیار خوړلي د همه ولسیا غل

دیکرنګو ګوګل پاک وي تل له ویرې
درغلان او دورنګان وي په زلزل

ته ویله وې چې کوچې ماهیوان بار کړې
اوس وهې به یې دایلبند شمال او ربل

حقتولنې ځنې پرته هر نظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغورځېږي

د ککوړي د سړې ټوکرې د پاره
آدم زوی بل آدم وته ټيټېږي
يو شته من دی چې ټولنه کې ټولواک دی
نېستمنان خو په چغ شوي تل اوسېږي
د ناچارو کته باندې کتوي باندې
د چارمنو کتوي به پی کتي پخېږي
د بې وسو د خولو په ترمو څاڅکو
د وسدارو ماڼۍ رنګ، ځمبې ډکېږي
د رناوي چې په موړۍ[1] يا په دوتروي
لوڼکو به په ګنجيکه خود ارزېږي
بې اسرې آسمان ته غرېدې غږېدې اړې
په ظالم چې به لا کله نسکورېږي
په زوخړه به يې غورونه شي ټول وېلي
په لړمون د ځمکې داسې اوړ ختېږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولنې بنيادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنيزه ژوند سمسور د سړې جسکا
د ټولنې مدعا واړه سړې دی

---
۱- موړی = پانګه،

په ټولنه ریز کې لوی قهرمان شي
بې ټولنې قهرمان هم لیشتکی دی

چې ټولنه دې آدام په کلیمه وي
هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د ټولنې سره مل، دځان څارن شه
چې ستا "زه یم" د ښوندون ځانګړی شی دی

چې ټولنه یې باره (۱) دارتیا (۲) ناخلي
هر بنجمی خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه وار نړۍ یوه کورمه کړي
د یوې کورمې خوتل یوانغړی دی

دازغوله ویخه سترګې را ټوکیږي
د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به څو ویږي
سرې لنبې د خلیلانو خوراکه وي

سامرۍ د زړونو پټ غلونه را نیسي
د مړو پیت پرک هم په تیچه وي

شرق ناتارېې د وختونو نیمه خواکړي
انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

۱- باره = پیښتی، ۲- ارتیا = ضرورت- نیکرتیا- کړمه.

ارګجه چې نظامونه د نړۍ دي
ولسونه خو ئې خوړ يې ارګجه وي

د شنډې تخم کرونکی    عقوبت وي برخه شنډه
خېټ يې څه کړي، چې نه مومي    څوک يې وږی له درست ونډه

چې د ځمال او شروندانه دواړه زکات شي
سړی يې به دې هله په ولسات شي
چې نېستي د نېسمنانو نه غوځېږي
او ردې پوړې په داسې خيرخيرات شي
ولسونه په مېړونو شروندي اوسي
چې مېړونه په نيش لګي، خود ميرات شي
شريعت چې په انډول[1] د خپل وخت نه وي
عقيدې واړه ذکتې لات منات شي
د شروندون پانې په خپلې سکې[2] کېږي
هغه ورک دی، چې پيرې يې په ميرات[3] شي
چې يې منډه نه له دين نه له ساديني
د شروندون خواږه په داسې ولس قات شي

---

۱- انډول = تول، ۲- سکه = سرمايه - راس المال، ۳- ميرات = Grace - لږه وربخښنه.

د هغې اوښې ملامـــا ته عقوبت شي
چې یې بار له خپله توانه څنې زيات شي

○

هر غورځنګ[1] ته دورنګان ورننوځي
ځان دې پوهه په دې تکې هر سالار کړي
تا بیاکرانه د بهر دغلیم نه ده
کور غلیمي په اتبار اتبارګونه ار کړي
د دو رنګو[2] وي نظر په خپلو ګټــــو
کله غاړه کې تسپې کله زنـار کړي
چې د ننګ خبره راشي کور غاړي شي
تش میدان کې به د روزو تود بازار کړي
تا ته لاپې دیاری وهي سوګند خوري
شا په شا دي له دښمن سره روزګـار کړي
دوه غځیزه شروند په نه شروندو لیکه[3] دی
یو غځیزه شاه ځلمي یو غځیزکـار کړي

---

۱- غورځنګ ، تحـریک - خوځند

۲- دورنګ ، دوپړک - دوه ژبي - منافق

۳- لیکه ، حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم خپل جس دی سره توب خاوري ايري کړی
د دورنګ عمر په ځان باندې ستم دی

څښتن ټول د قدر وړ دي پيدا کړي
يو سړی د بل سړی نه په څه کم دی

تړ[1]سيمار د فرعونانو دود دستور وي
که ولس يې تل زغمي، نو ولس ګرم دی

ستور تليزو ته چې لاس شي رسولی
ولې سود يې په ګلونو د شړشم دی

باتوران چې د کونترو ځای له راشي
اې ويږلو! زه هم چاودی د غه غم دی

دې ټولنو او دودونو ليشتکی کړ
کمنی لوی له کائناته بنيادم دی

په لويديځ کې لږ له عقله رڼا يې ده
په ختيځ کې د هر لوري نه تورتم دی

نمړيتار[2] چې د فرعون وي زرامن نه دي
زرامن هغه، چې فرعون يې ورکول کړي

---

۱- تړسيمار: وهل ترل، ۲- نمړيتار: د بل ډوډۍ ته ناست .

چې بې جسه وي جابروته تيتيږي
چې جسمنه وي جابر را بغـول کړي
چې د بل په سترګو وينې تول راڼده دي
روغ هغه چې يې پخپله ځيرول کړي
نه سري شو چې سري يې خدايان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي
چې بلزونه کړي تنزري، بازوان نه دي
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي
ننګيالي د ښروند نيمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي
په ذروکې يې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشې لورپه لوښه تيرول کړي

○

ډکې ډکې جولۍ خلق ځي له درمـن
برکت دې شه ننګياله په رشـې
ښا پيروک په تورو څخو سرښـاسي
سوړ پيا شه ختيځ رانولي پلوشې
د بازونو باتورانو پدې قات کـې
تپوسانو ځنې غـوره دی باشـې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی

ترڅو پښې راټينګوي بړې مشمشې[1]

لا ليدلي يې بو رسترګی کليم نه دی

څکه کرځي فرعونان لا په نشې

دحق ډوګه له خپل ځای رهولی نشي

دباطل داشد تو نه خرخشې[2]

اروپيچ چې له نقشې دکائنات وي

په بل مخ شوی دنړۍ هغه نقشې

جي دنمر سترګه وبريښي

غرونه واورې کاندی ويلې

حق برياليږون همرنګ دی

که يې نښته څوک په سيلي[3]

داوبو د مخ کېل نه دی

کليمه دکانې کيلي[4]

د نښتر د سيالی نه شوې

که په خبر شوې دېرې ډيلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده = ډنډوره، ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سيلی = ملاتړ

٤- کيلي = کرښې، ٥- ډيله = يوواښه.

بدخوګ بدو ته نه وایي

خلقي شوې داسې ایلې

چې رنځور باوړي[1] وکړي

پوچې شي د دارو هیلې

له پولاد اصیلي زیږي

خرې نه زیږي اصیلې

چې نښتر له برمه دروي

نه ټینګیږي په یونیلې

لکه کس کړی په ځان غاړې

هسې قام په ځان ځاني[2] کړي

د هر چا تبر له تن دی

خپلې سپینې خپله پرې کړي

هر څوک قبر ځان له کني

هر څوک خپلې جنازې کړي

غلیان له کوره زیږي

پلمه بازخه له پلمې کړي

هر څوک ځان ته تبۍ[3] سرې کړي

بیا یې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باویړي = د ناروغۍ بیا تاندېدل، ۲- کانی = شندې غاړې، ۳- تبی = د کټي تبخی

خپل عمل بـری ښښــن دی
خپل عمل په غاړه پــرې کړي
ځښتن ظلم تیــری نه کړي
هر څوک خپله د یوې مرې کړي
د فـرعون د کـور له درنــده[1]
کلـیمان جګې نښــزې کړي

په مسـوره[2] و باتورنه رنګوي نوکې
د تنزېږو تودې وینې یې مسوروي
د ننګیال کړلي خښتې ، سمسورېږي
میږې وانړه او سپینخرې که سوسره[3] وي
د دوران تابیاد هغه چا دوس ده
په غښتنو ژوندون چې یې نظر وي
د تاریخ ټول نرېزري پرکونه سپي
چې مدام د ننګیالو مو متی لښکر وي
منګوان به څودحق د لارې تښتي
د هر یولار به آخر پدې خیبر وي

---

۱- درنده = غولی - جوس .

۲- مسور = دمنوکومنو رنګ - نیل پالش ، ۳- سرسر = دوکیا کبدونکی اور .

علیمه لوی چیناګر دی    تل ترتله په غـور ځنګ
سوسرونه پرې اسپرلین دي    سیمه سیمه پرې ګلرنګ

○

دکشرمشرفرق خوخود وی
ځښتن لومړی دی او ورپسې ته یې
دیونه کېچ یې په نوروبـــــره
هغه قچیره، ځواکمن مبره یې
چې دی خویونه د هغه خپل کـړل
هله په ولـږیې، هله به شته یې
ځکه دې غوره[1] خپل سراخـلـي
دهغه مټ یې، دهغه کړه یې
دهغه مل یې، په نړیم بسیـل یې
له سین زورغونه بربوکېنې نه یې
په سپکو کانو چې ځان دې تولې
داله خپل ځایه لاخبرنه یې

---

۱- غوره - تورتهمت ( ... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ... )

په درست عمر کې بوڼه[1] دې نه ده کړې

دادې بازدې وهنده او دا میشکار یې

یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې

ډکانې غوټکې یې ټول عمر په لار یې

نه دې برید، نه دې ولجه، نه دې مښود څه

هسې لوټ[2] یې او د ځمکې په مخ بار یې

څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې

په نظر د صرافانو کټ بنګار یې

حج، مونځونه، تلاوت کړې روژې نیسې

ولې اوس هم زناري یې، بت ګزار یې

لږه پښه ونیسه فکر له ځان وکړه

چې دا ولې له همه قامونو خوار یې

چې هم دغه مذهبونه دې اسا وي

لکه ړوند له ګړنګونو به غوزار یې

د غلیمانو په مسودونو

چې زنارونه دي، هغه تسپې دي

---

۱- بوڼه = لومړې ښکار کول، ۲- لوټ = بې هډو کو ځانده.

کتاب کسې لې، باطله کړي

دکتاب مینځ نن هغه کیسی دي
انځور هم هغه خدا ئې انځور دی

ولې پرې شوي پوچ کښیدې دي
چې خلیلا نو را په نکـــــولې

دامتیانو هغه کعبې دي
داچې یې نرون دکلیمو خیژي

چې ویخ یې کورې بې کلیمې دي
دمذهب شروتې لیندې په لاس دي

ځکه یې ویشتې تل مُوندې دي
چې حق ننګي وه ځلمي وغشـــي
چې بې ننګې شوه ځلمې دُرمې دي

○

دباتورو دورتـــــړل ده پـــر
لـــړه ناسته یې په ځــــاله

دڅړوند بړد(۱) کې، راځـــي پیتي(۲)
دنصیب لیک ته اتــــاله

چې نیستي په هستی مـــارل(۳) یا
څه به خلاص شي له زوالـــه

---

۱- بړد = سیالی، ۲- پیتي = وروستی، ۳- مارل = حسابول.

چې يې ټکره کليمه ده
ولې نه دي توول راټـــاله؟
بازداري دې خپله ستايي
په دېوال له تش پېخــــاله!!
په نرۍ باران پسخـــه شـــي
اوم غـرڼ لوښې ګلاله!
د بل کتې ته په طمـــع !
هيڅوک نه کتې يې تالـــه

خوارہ بېرسېره کا، تراخه به ورک شي
چاپېر نولنه که هرڅو ترخه ده
تيرې به وي ترهغې خـلې خـلې
چې دي ديوټ باندې ديوه خومره ده
حجره، جمات کې يې رېښتيا وويل
له يو مخيزنه ولسيا خپه ده
د رابياکې بورجل ته ځان رسوه
که لار د سروغنو چا په چاپه ده
د صبا لاره څوک دې ب کولی نه شي
منمه دا وخت تکه توره شپه ده

په سپوږمۍ کوزشه مېرمنې وویل
دا د برتنګ لارې لومړۍ کرښه ده

ښه عمل «زه یم» ترغون کړي
بد عمل د «زه یم» رنګ شي

چې په «زه یم» شهسري[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي

شي تالا ترغه په «زه یم»
چې دوه مخي شي دورنګ شي

بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چې کالبوت د خاورو رنګ شي

چې سمسور یې «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي

مرګ یې هېڅ کولی نه شي
چې د خدای په رنګ کې رنګ شي

په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په ښښتن که د چا ننګ شي

---

(۱) شهسري = سترسري - لوی سړی.

○

کښېنېده پرې ستا عمل دی
که دې "زړه یم" سرانځور دی
څو سړ هسکه دلې هوړې
چې په "زړه یم" کې سمسور دی
چې ځوانکه[1] یې شي تورکې
تش لمنی، هم مختور دی
ای د ښېګېی غم خوړکو!
ښېګه هم، خوشروند څه نوردی
دې آدم، آدم په زړه یم
بې له زړه یم د آخور دی
چې د تش نس او د نوس شي
سرې ذات یوري پېغور دی

○

د مېړونو تېرو تورو چورنګ یو رل
د اَتي په امبالې چې غوړ مېدل
د هغو ښارو بنه بنه الــوزي
سړ چپه چې جوړه بازته نېغېدل

---

۱- ځوانکه ـ د زړي یا تخم هغه شونۍ تیا چې زرغونه ترې کېږي.

د هغو په طبیلو خروڼه رغبستي
چې له حق ځني ناحق ته اوړېدل

چې خوړلي سوګندونه یې د وفا وو
دار یې ینبی په اوږو وګرځېدل

د ړندو کلي کې کراني خرمهرې وي
او لالونه په سوپیاکو خرڅېدل

د کلیم په برخه دا رنګي مژړواک و
چې له واکه بې واکۍ ته پسخېدل

○

د میړونو پولادي متې سنګر وي
تور بریښنونه یې شملې د قام د سر وي

په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
یرغلونه د باطل چې یې په سر وي

د میړونو نغری کوندري شریک وي
شیخ ملي د وتر یې وارث یو د وتر وي

مخور د رهاني هغه تومن دی
چې پرانستي یې په درستي نړۍ ور وي

د ړزم چینه به یې هم چرې تاند نه کړي
چې پخپله روستي ځبلي د نبنتر وي

په نیزوکې یې دوړانګو ستورې ولاړ شي
ننګیالی د نمر خاته ختلی نمر وي

که د ینګان لرې هر څو ستړې وزرې
لوېې مارې د باتورو په څیګر وي

چې کاسیر وي په پړونې کې بربنډ وي
حیا خپله حیا ناکو له څادر وي

پردې بدشي دکتوی خپلې نکولی[1]
بدې کړونې خپلو بدو له اشر وي

د میړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
یا د هیڅ توک مار ې یا توک نهر وي

○

چې یوه یې مغکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کنجی[2] لاس وي
په توده کې یک[3] جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده نه د ښوند دستوراوله ره
چې یو خود ې په وله[4] وي او د نورو برخه خواره

---

۱- نکولی = پخکړې - لمده بل، ۲- کنجی لاس = خپلو کې کلک لاس ونه کړې.
۳- یک جلب = چې آسونه یې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = ماره - هوسا.

د مېړونو لار(۱) لومړی توری وهل دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو وېش کړ شي

د مېړه نيکه دوتر چې شته کول غواړي
هغې مټې بډې راکاږي او نر شي

د قام مشر هم د قام په جامه بويه(۲)
چې ولس يې د شړې وي، شړېور شي

زمانه که ببر شوی اباسين شي
شاه ځلمي ورته پښې بنجخې کړي تورغر شي

چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نور خو هسې خَلَقي خوشې ککړ شي

د سينا په دونهه پنډه تول سربری
ديوې دونمې ترمخه يو تبر شي

برغو(۳) پوک وهه، ډنګ ورکا نغارې له
دا خواره واره بنجخي(۴) که لښکر شي

---

۱- لار = قانون، ۲- بويه = پکار دی، ۳- برغو = ښکر- تورم،
۴- بنجخې = درې خچې (په اصل کې دوې بوټي سرغوته وائی).

په توربريښ چې په ميدان کې جنګيالي وي
سرڅيرې کې يې وتلي ننګيالي وي
په خپل کور کلي کې د پرخلق نامستو وي
حقملان په ولسات کې نوميالي وي
چې کليم ورته بېرغ د يرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بريالي وي
کليمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د مېړونو خو هم دغه دوه کالي وي
که لوی شي دی هغه منډ د ابدالي دی
په داځه که دچا توره ابدالي وي
په سومنات دغوا بين په خوله بانګ وايي
چې په خټه کې يې ګډه بلالي وي

بازدارې پورې پيغور شولې بازداره
با تورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول
په ټولنه کې رنا پوښتي زانغله
که وګړي تول د سيلمې نه حاجيان شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شخړوکې یو څوکه کلیمان شول
چې ډیوې یې ستا پلرینې واخستلې
د مېږي له ځایه پورته شو آتیان شول
د همت سپاره دې وبوګنېدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول
زړه یالی له خپلي ماري پښانه شو
په داغه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزړه ونوله
ستا یوه کوکه ورکېدلی نه شي
ټبره شلونه دا زغو که وي تل
د ستر کو لاره څوک نیولی نه شي
د کیدړانو په اور ړوکې چرې
د زمري غوړمب خطا کېدلی نه شي
چې شي لاس بری د فطرت په لارو
په هغو چرګ را پر پوتلی نه شي
د نن په ګټه چې بې سود کړېدی
د صبايي میدان ګټلی نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له دې ځمکې پورته شوی نه دی
خبر د بل نړۍ سره ولې نه شي
په شاه میرو یې انګازه شویده
که یې بنجخی نسن لیدلی نه شي

چې د لېچونو ر پیدا کړي توره دار شي
چې چنګیز یې وتړي نو هغه لار شي
چې وسلو منو سره کلیمه نه وي
که د غور پښان تومن وي تار پتار شي
له دستور د کائناته خنګ وځښتي
د کندوانبار شته من قامونه خوار شي
بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لویې میړانې شي کولی
چې د خیټې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بریه
خوږ ک کله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بخړکې ولې ناویسایې
هم بخړکې چې خوندي کړي سور انګار شي

شنه راستي د سروي هيڅوک خيم نه خوري
که پرې تېر د خزانو تر پسمار شي

د باطل د وېرتېکي خو کليمه ده

له نيمګړو مفکورو هيڅ نه وېرېږي
د پرقامونه به د ځمکې له مخ ورک وو
خو د ټکه سره تېغ نه وېږې کېږي
زېږي[1] ټول سمسور به دل ځوخت ترمنځ کړي
تلوار ګړندو! ديګ پسوار باندې تودېږي
پلويانو د روسو او لېنن! واورئ
دا نړۍ ستاسو په وړاندې به نړېږي
بنسټونه د ړندون په يوه حال وي
ادا بنې مګر له وخت سره نړېږي
ټول بدلون يا نه بدلون ړوندانه ندی
خوار هغه دی چې يو لور ته ځنګنېږي

په شونکار دا باسين چې شوی پورته
ولې چپ يې د ماښکي سندره نه کړه

١- زېږي = نړۍ.

تاړاکونه د خزان ړنګونه تېر شول
خو د سروې شنه جامه يې زړه نه کړه

چې رښتيا ويل د کومو خولو توږوه
بر په دار يې له رښتيا وبله نه کړه

راغلل ډېر انقلابونه دلې هورې
ولې درسته يو سالار کليمه نه کړه

مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه

تېرو تېرو، تهمتونو او خوږې هم
هيڅ کچه د پتيالو عقيده نه کړه

چې د سرو وينو پياشې پکې ځلېږي
شاه ځلمي هم په هغو لارو چلېږي

سرسجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په يوه هڅه نه ارزېږي

ککرې د کليمانو وي تل هسکې
شکروري ککرې ورته ټيټېږي

حقملان له زمانې وي پېړه مخکې
خلق نور د زمانې په دود تېرېږي

کلیمه د کائنات سره جنګیږ دی
غل د رغل به له جنګ غالي پښاکیږي
ته دې خپله غاړه خلاصه په مړدی کا
دې نه مه ګوره چې کله صبا کیږي

د مېږه له ستو پاڅه د ناحق جهان نسکور کا
په چینجنو روستو ګرګو بود هېږه پورې اور کا
دا خدایان د تېنګي نه دی ولې ته سترګې د بوّر[1] کا
د قاموونو وندی ځمکه د آدم تالیزه کور کا
دا د غوښنو تش لوټونه په حلقا د جسو نور کا
د ښخښتن په ګنبد وکې
خپلې چارې دې اخوُر کا

په تیرو تورو برغنده ځي
ننګیالي ځي په خپل منډه ځي
د مېږه د خولـــــوو بړم
د سپرلو له ګرده وندڅي

---

۱- بور = زهري.

له ښښتنه چې هم غږ وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بويه
چې د خلقو په مرکه ځي
د تسپو خاوند ته خېر دی
که ځي دار له، لونه ځي
و سپينږيږي خَتي[1] را وړه
د کلپانو آخر کنده ځي
چې په ځانګه کې پخه شي
هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لا شه مومي
څه يې وېره بيا له اوره
زړې مات وړوکي کور کړي
شي همغاړې له شهکوره
په چرسو[2] به تر څو سود کړي
کائنات ځنې پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

۱- خَت = کميس- پېڼۍ، ۲- چرسو = تنګ ځای

سرېخېره تل پاتې دې

خیر دې نشته سرېخوره!

د فطرت په هنداره کې

له ښښتنه ځان ته ګوره

چې ځانمن دی هغه کس دی

چې ناځانه دی ناکس دی

په سیلاب غرور نه لړېږي

څه ارزښت دلې د خس دی

یو په لس، هم یو په سل دی

پیاوړی چې په جَس دی

د هوسو د غزالې [1] نه

دزمري ورتېره وس دی

په زرګونو دلو سرَدو [2] له

یو بڅري داور بس دی

ګرندو پرې ږېره ګَل کړه

د مېته وُ کاروان پس دی

---

۱- غزاله = د هوسو سپل

۲- سرده = یو وابنه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام لکه کرګس
په درست قام يې لګولې
له پېښوراسې ګرګس
دوی ښېمين له سره واخلي
قام له پاتې شي يکرس
روښي دې کاندي ولس ته
بيا کوي مانځه اودس
د بې وس ونده کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس
د "لا ترکضوا" وخت لند دى
لا کوئ هوا هوس

چې څټکوې ظالمان شي
سينه يخه د جهان شي
چې خدايان پرمخې پرېوځي
را اوچت بنيادمان شي

چې ځانګړی دوتړ ورک شي
په توبنه لولنګران شي
کليمه هله په پښو شي
د باطل پیورجل چې وران شي
زورداري کې ځانا ځان وي
کليمه کې تول یوځان شي

○

پدې ښخړو پرکښو کې
هم هغه ځلمی انځور دی
چې د تول نوغي ذخیره
همه چارو کې حقطور دی

○

پور په جسو شه بیا ګوره
چې یو تن ښنګه لښکر شي
د میړه له چارو بریښي
په تندی اخستي غر شي
هر د ځو برخېنزتیا ده
چې خړیک پاځي نښتر شي
له تني زوخ چې اوچت شي
لکه نمر پری تل سحر شي

چې ژړوندی وي د ښکار ځله

تودې وینې خود شهپر شي

زمرین ګوا ښه شاه ځلمو ته

سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړې دورې دي

ځکه یې غشی بې پلې دي

چې له بازه چټو ته ناست دي

پیغالونه یې ولجې دي

ولسات لکه تندر دي

د ښکاریانو په ښچې دي

د بل مخه یې هتوله مخه

پرکښې نه دي رمې دي

د نمرود وسیلي وایي

له آذر یې عقیدې دي

چې نو مړي په سرو دي

د سرو تښې پیښې دي

د با تور نخښې یې نښته

لا ملخي تولي جوښې دي

د یو شرق زغملونه دي
دا پېړۍ دومره اومې دي
پکې زه یم بوده نه شه
وجود تښې تښتې دي

○

د آدم ځانګړی "زه یم" لکه حق صمد احد دی
تن زاږه دی ولې "زه یم" لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ دی

○

د هر زړي په درون کې د خپل ستر وجود انځور وي
تېغ، تنه، ځانګې، ګلونه یې هم کامونه په خپل لوري وي

○

دیکړونکه برید مېړونه نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوا ېزه لېږنه دي که ساړه نه شي متونه
لمن څه چې څادر خور کا د سپرلي ډېر دي ګلونه
ته لا مېشت په سر پړاو يې ژوند دې شخړې پړاوونه
خوني خونې ستور تلیږي تازه نه کړه یو خونه
که تنها کوټه کښېني شي کوټه به منزلونه
قدم تېز کړه، چې غږېږي ستوره تلو کې جرسونه
یوه ورځ به درته راشي
ستور ګزونه بېلکونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي
وړانګه کده شي په وړانګې
ړا دبره نوی نمر شي
چې حجرې غښتلې پاخې
نود هڅ ځانده و سحر شي
ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپېڅلی سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګواښ شي
نو چوغې نوی په سر شي
شهسواران چې یک ځلب شي
د برېدونو[1] لوی اختر شي
تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې یو نظر شي
لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

[1] بړېدونه = ولجې، مال، غنیمت.

د ژوند پېټې شي مخ لسوځې
چې شو ګېر تېره نشتر شي
چې ګټل بخښل توره شي
بیا آدم جنت ته ور شي
چې د عقل سپاره ویښ شي
پوچ خدایان هله ړبېر شي

○

د وجود توره زېبون دی — او د «زه یم» نوښتون دی
نوښتون کړه د ژوند تږه — نوښت «زه یم» له پاخون دی

○

یو غورځی دی اباسین دی — غرونه غرونه دی یو ښین دی
یو هڅه دی سپوږمۍ ده — یو یرغل دی ستور تلیز دی
له تش سټور لاس اوچت شوی — اوس د هر غوره غوریز دی
ستا د توري له ټکوره — کائنات ټول سندریز دی
غره راغه دی له همته — ګل لمنې ګل مخیز دی
لا د ژوند غرمه ده لري
د آخو اوس لا سوږکهیز دی

که د ښروند نقشونه د پېر دي

ته د واړه ښروند انځور يې

نور ښروندون دي همه پلې

هم يو ته يې چې شهسور يې

واړه ستوکي يو يو رنګ دي

ته له رنګه سپرلي طور يې

د هوسۍ په سترګه د ښه

هم باتور کسی د بور يې

د ذرې په څانده نمر يې

په قطره سمندر سپور يې

ته په ځمکه کې آسمان يې

په سرو او بو کې اور يې

د لښې سره پیاڅه[1] يې

لا ښه تور، هم تکور يې

چې راغونډ شي موټي خاورې

کائنات شي چې ور خور يې

د مجرو په اړونګه کې

له ظاهر ليده څه نور يې

---

۱- پياڅه: د شاتو د ګبين

نور کورونه په تا تنګ دي
ته همسیال د خدای د کور يې

○

مفکورې به دوېرې پوچ شي
د دې يو کلیمې وړاندې
چې يې ښن سندرې وايي
په صبا يې وايي ساندې

○

په ټولنو کې زرغونه دا د ډيوې او مشالونه
د سرهنګو شاه ځلمو دي د خولو وينو رنګونه
د شاه مټو الامې يې اسمانګه سنګرونه
ګنبدې يې د ګراو دي وير سپرلي شاليزارونه
د ناغوستړکو شوګیرې يې شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګرېزيې خوږې وګړې شوالونه
د عقلي مسنود رشه يې هڅوبونه، تهذيبونه

○

د ځلې د نرګس غږن دی پسرلی يې تا نګه راتلی شي
په ارګه چاپېريال هم انقلاب زرغونېدی شي
عکسمته پرګنو نه مله د لارې تولیدی شي

میږه مل که د ښبنستن دی — له ښبنتن مخکې کېدی شي
د تیروازغوله تخرګه — نوی څه وتدراستر کېدی شی
دفرعون له خپله درنده
کلیمان راپاڅېدی شي

آدمزاد لا لیشتینګ دی — لا د پرلړي له خپل ډکګ دي
که په ټومنه باتوران دي — لا په چاروکې لولکګ دي
فلسفیان یې هلکګ فکره — لا، لا نړه یمرېي درکګ دي
په دې ویرلوی کائنات کې — په یو ځمکه، نمرتاوکګ دي
که خپلوا که د پرځان بولي — چې یې ګوری لا بل وکګ دي
د شپانه څاري لا نه نړده — شرمخان دخپل کندکګ دي
لا یې عقل د پرکچبه دی — لا په د پرجهلونوکلکګ دي
د سرښوره نغوتکو — په لا سونوکې لینزکګ دي
ښېښناکیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولکګ دي

لا په سر یې فرعونان شته — لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي — لا دوچې د پرخدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول — چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیحا خېژي لا لند پاري مذهبیان شته
خلیلان شروني کېږي د آذر لا لښکریان شته
هر نوښت ته کفر وايي لا مخ مخې نزاریان شته
قلمونه په اور سوځي لا د علم غلیان شته
آدمتیاله لا یو خوب دی لا د قام، خاوري بتان شته

سړیتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حیوان شته

○

وخت به اخلي، ادمزی چې
له خپل ځانه اشنا کېږي
د خښتن او د خپل زړه یم
په اړیکو چې رسېږي
وخت به اخلي دا حیوان چې
د سري په پښو پاڅېږي
وخت به اخلي پوچ خدایان چې
د برېږي، نسکورېږي
او د جهل کتابونه
د خنداتوکي جوړېږي
وخت به اخلي کائنات چې
ستر آدم ته بیا تیتېږي

د آدم په پاڅېدو کې
لا د ډېرو پېرو څنډه دی
د دې دوو پښو ځاروي ته
لا په ځټې کې لوی کولنډه دی

ته په ټول کائنات برې یې  خوله ځانه بې خبرې یې
ملغلره یې په زړه یم  که سیپۍ په تن بهرې یې
په یو څاڅکي کې توپان یې  په ذرې د ننه غرې یې
بر سېرنه که لاک ښکارې  چې په جسم شي نو سره زرې یې
ستا تو بری توره دې "زړه یم"  هم په "زړه یم" ولجه ګرې یې
که ورستي راغلی کاروان کې  خو د واړه کاروان سرې یې
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی  د بهر هستۍ په چړې یې
لا نیمچه آدم یې ځکه  لا د نیم ځان روزنګرې یې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځورګرې یې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سړی دی

الکتاب پهٔ ادم نه ونـــی
لا نه ښودن آخرنی دی
که هر څو مره لرغونی دی
خو هر نن کې صبانی دی

حق لا اوس هم نا ویلی
که ویلی دنـدلی دی
فرعـوني دی په خمار کې
نا زیږېږی کلیمی دی
چرګ پرېوتی سیلاب زوځي
نوح پلوی بې بېړې دی
دکعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دکمتې نه دی
دالیندی واړه بې ژې دی
خلق خبتې د بتکور دی
حکه ښځې آذری دی
نا پوهې دهر وګـړی
په وګړی په غدی دی

مفکورې پوچې نیمګړې
بېکیلکونه، تیز ندی دی

چې خوندي دې کړه وروره شه
چې دې وباړه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بېرته شرق په خپل تندي شه
د باتورو جسن يې بايلل
چې د چتو وهندي شه
پولې پاڅي آدم وخوړي
چې د پولو ځای بندي شه
د خلیل ع پرې ته ویتی
د بُتانو وهندي شه
چا تونګ د اسمان وخوړ
څوک ځغلا په ګړندي شه

ښوندانه تول یو ځانیز دی
که هر څومره ګڼ رنګین دی

PROPERTY OF ACKU 7550

مخ د ښکلو په سیو مخه
که هر ښکلی بل مخ ښیز دی
په یو بڼه په زیر چارو ځي
دارباب که زر تاریز دی
لاړي لاړي یو شهلاره
ښه ښه تلي یو شه ښیز دی
ستو ښلیز ستو ښلیز کو رکور
کائنات یو شهکوریز دی
پدې دومره هک ځاندره کي
ځمکه ناښې غوندې ځیز دی
خو ځمکه زی په شونی تیاو
دهمه ښ وند د توزیز دی

○

په تنزومې کیراوکره
شیش بیا واخله ویر جهان ته
چې ذره په ولکه واخلي
متی رانبکه بیا شلمان ته
ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړي وبا سه آسمان ته

له بېلې درياب ته واوړه
له تنګي نه پلن دامان ته
غوږ کښېنه په لينده کړه
بيا ورکښېوږه ښخ کمان ته
له سيمرغو دې د پرښو ند وکړه
لاس کړه اوږد نمر ړوبنان ته
پوهه بوځه څېرکتيا له
څېرکي را ښکه ايمان ته
په نړۍ ورخور پېدو کې
ګرځېدلى او سه ځان ته

PROPERTY OF ARIC Established 19??

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library